مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۰۷/۱۲

# د انساني شعور د ودې درې پړاوونه

د لومړني انسان اندېښنه دا وه، چې څنګه ځان له داړونکیو ځناورو، یخنۍ، ولږې او طبیعي ګواښونو وژغوري؟ دا برخه شعور یې له نورو ژویو سره شریک دی. دشعوري ودې دا پړاو مرسته ورسره کوي، چې خواړه ومومي او د ځانساتنې لومړنۍ تجربې ذهن ته وسپاري. دې ته د شرطي غبرګونو Reflexes د رامنځته کېدو دوران وايي:

## دويمه دوره،

په ارادي بڼه د طبیعت د بدلون پړاو دی، په دې پړاو کې انسان په خپله ګټه طبیعت بدلوي. لومړنۍ پرګنې (کورنۍ) رامنځته کیږي. انسان وسایل جوړوي، ژبه کاروي او یوازې ځان نه، بلکې خپله کورنۍ هم له ګواښه ساتي. شعوري تجربه یې دا ده، چې تر پرون نن او تر نن سبا ښه ژوند کولای شي. د انساني شعور دا برخه تر نورو ژویو ممتازه ده. انسان پر طبیعت او نورو ژویو واک او غلبه مومي.

## درېيمه دوره،

د انسان د ټولنيز کېدو پړاو دی، چې په دې دوره کې انساني شعور دې پايلې ته رسيږي، چې د فردي هوساينې لپاره بايد يوه هوسا ټولنه رامنځته کړي.

د شعوري ودې دا پړاو انسان د اشرف المخلوقات درېځ ته لوړوي. يعني موډېرن انسان ترې جوړيږي .ټولنيز قراردادونه، قوانين، ګډ (عامه) ملکيتونه، ګډه پانګه، ګډ ارزښتونه د ګډې، ټوليزې او ټولنيزې هوساينې لپاره رامنځته کوي او بيا ټول ګټه ترې اخلي. د دې دورې انسان ته فرهنګي انسان ويل کيږي.

په هغو ټولنو کې چې ښوونځي، عامه اداري، ګدارزښتونه، ملي تأسيسات او بنسټونه ويجاړيږي، د هغې ټولنې انسانان د شعور دريم پړاو ته رسېدلي نه دي. هغه ټولنې چې په ګډ شعور، عمل او ګډه اراده، اقدام، فکر او هوډ خپل عامه بنسټونه او ملي شتمنۍ ساتلای نه شي فرهنګي انسانان يې بللی نه شو.

**د دغه فورمول له مخې فکر وکړئ، موږ په کوم پړاو کې يو؟**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ